**د کابل په لویدیځ کې پر سیدالشهدا ښوونځي د راکټي او موټر بم برید په تړاو د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مطبوعاتي اعلامیه!**




په ډېرې خواشینۍ سره یو ځل بیا د افغانستان د خلکو دوښمنانو د کابل په دشت برچي سیمه کې پر سیدالشهدا ښوونځي راکټي او موټر بم برید وکړ، چې له امله یې د یاد ښوونځي ګڼ شمېر زده کوونکي شهیدان او ټپیان شول.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت، پر ټولګټو ځایونو او تعلیمي بنسټونو بریدونه، چې اصلي قربانیان یې ماشومان، ښځې او ولسي وګړي وي؛ په کلکو ټکو غندي، دا او دې ته ورته بریدونه د ټولو اسلامي او انساني اصولو خلاف او د هېڅ ډول توجیه وړ نه ګڼي.
دغه وزارت له ټولو جګړهېزو ډلو غواړي، چې د سولې لپاره له رامنځته شوي فرصت څخه ګټه واخلي او له جنګ، زورزیاتي څخه لاس واخلي؛ ځکه جنګ او زورزیاتی به هیڅکله هم د دوی موخو ته مشروعیت او رسمیت ور ونه وبښي.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له نننۍ خونړۍ پیښې څخه، چې زیاتره قربانیان یې معصوم ماشومان دي، په ژوره توګه اغیزمن او خواشیني دی او په دې مبارکه میاشت کې د برید قربانیانو درنو کورنیو ته د ډاډګیرنې او خواخوږۍ مراتب وړاندې کوي او د پیښې شهیدانو ته له الله نه برین جنت او ټپیانو ته عاجله شفا غواړي.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت رهبري هییت